# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


## خصوصي سکتور د مالیاتو پر ټیټولو خوښي ښودلې

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې او خصوصي سکتور مسئولینو، پرون د یوې غونډې په ترڅ کې، په مالیاتو کې د تخفیف په تړاو د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د اعلامیې هرکلی وکړ.

په دې غونډه چې په کابل کې جوړه شوې وه، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې لومړي مرستیال او سرپرست محمد یونس مهمند وویل: مالیه د یوه هېواد د پرمختګ سبب کېږي او د مالیاتو د راټولو کچه د کاري فرصتونو په رامنځته کولو لوړېږي.

هغه زیاته کړه: موږ په مالیاتو کې د تخفیف په تړاو د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري وروستۍ اعلامیې هرکلی او ملاتړ کوو، خو د هېواد مالیات باید د هېواد له شرایطو او حالاتو په پام کې نیولو سره وضع شي.

د هغه د څرګندونو له مخې؛ د اسلامي امارت په راتګ سره، په هېواد کې د خصوصي سکتور ډېرې ستونزې حل شوي او زیاتې آسانتیاوې ورته برابرې شوي دي، خو د مالیاتو په برخه لا هم ډېرو اصلاحاتو ته اړتیا ده. ۷مخ

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۸۵ ګڼه / دوشنبه ۰۲ ذوالقعدةالحرام ۱٤٤٤ هـ.ق / اول جوزا ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۲ مې ۲۰۲۳ میلادي

### د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال:

## د غالیو د سوداګرو ستونزې به حل شي



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند او د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ملا عبداللطیف منصور په هرات کې د غالۍ جوړولو له کارخونې څخه د لیدنې ترڅنګ په دغه ولایت کې د غالۍ جوړولو کارخونو له یو شمېر پانګوالو او سوداګرو سره وکتل او هغوی یې په هېواد کې دننه پانګونې ته وهڅول. ۷ مخ

### د ریاست الوزراء کفیل:

## د اسلامي امارت مسؤلین شپه ورځ د ولس لپاره خدمت کوي

د ریاست الوزراء کفیل د کابل د هودخېلو او د لویې پکتیا له یو شمېر قومي مخورو سره په کتنه کې وویل چې د اسلامي امارت مشران او مسؤلین شپه او ورځ نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي ترڅو د افغانانو ستونزې هوارې کړي.

د ریاست الوزرا مطبوعاتي دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل مولوي عبدالکبیر پرون د کابل د هودخېلو او په کابل کې د لویې پکتیا له یو شمېر مېشتو قومي مخورو او دیني عالمانو سره وکتل.

د ریاست الوزرا مطبوعاتي دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، ... ۲مخ

### مشاور پوتین:

## روسیه برای کارکنان افغان زمینه‌ی کار را فراهم می‌سازد

نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت کشور، در حاشیه‌ی چهاردهمین «گردهمایی اقتصادی فدراتیف روسیه و جهان اسلام» با روسلان ابوبکر سید حسین ویچ، مشاور رئیس جمهور روسیه دیدار کرد.

وزارت صنعت و تجارت دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفت که: در این دیدار دو طرف در رابطه به افزایش داد و ستد تجارتی و فراهم‌سازی تسهیلات در این راستا صحبت کردند.

هم‌چنان آقای سید حسین‌ویچ، از راه اندازی بانک‌داری اسلامی، در چهار جمهوری اسلامی فدراتیف روسیه و دیگر کشورهای اسلامی به شمول افغانستان یاد آور شده و بر افزایش تسهیلات و فراهم‌سازی زمینه‌های تحصیلی بیشتر برای محصلان افغانستان، ص۲

## روسي پوهنتون لوړو زده کړو وزارت سره همکارۍ کوي

د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستیال دوکتور لطف الله خیرخواه او د یاد وزارت د بهرنیو اړیکو او بورسونو د تنظیم رئیس ډاکټر نظر محمد عرفان روسیې ته د کاري سفر پر دوام، د التایي پوهنتون څخه د لیدنې په ترڅ کې د یاد پوهنتون رییس او رهبرۍ له غړو سره وکتل.

دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په دغه کتنه کې پر دوه اړخیزو علمي او تحصیلاتي همکاریو، په اکاډمیکو برخو کې د لاسته راوړنو په شریکولو او افغان محصلینو ته د بورسونو او سکالرشیپونو په ۲مخ

## آغاز کار قیر ریزی و کانکریت جاده‌ها در شهر غزنی



شاروالی غزنی از آغاز آسفالت چند کیلومتر سرک و کانکریت‌ریزی چند کوچه در ناحیه دوم شهر غزنی خبر داده و اعلام کرده که کار آسفالت و ترمیم بیشتر جاده‌های شهر به زودی آغاز خواهد شد.

شاروالی غزنی اعلام کرده است که کار آسفالت جاده‌های مقابل چند مارکت تجاری در ناحیه دوم شهر غزنی آغاز شده و به زودی به اتمام خواهد رسید.

همچنان شهرداری غزنی ص۲

## د ۱۷ ولایتونو د پوهنې رئیسانو هڅې وستایل شوې

د پوهنې وزارت سرپرست مولوي حبیب الله آغا تېره ورځ د هېواد د ۱۷ ولایتونو د پوهنې له رئیسانو سره وکتل.

دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په دغه کتنه کې د پوهنې وزارت سرپرست مولوي حبیب الله آغا د پوهنې ولایتي رئیسانو ته بنه راغلاست ووایه او په تعلیمي ډګر کې یې د دوی نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وستایلې.

ورپسې د پوهنې ولایتي رئیسانو په نوبت سره خپلې غوښتنې او وړاندیزونه له مولوي حبیب الله آغا سره شریک کړل ... ۷مخ

## برتانوی شرکت افغانستان ته سیلانیان رالېږي

د دیلي مېل ورځپاڼې د راپور له مخې، د یوه برېتانوي سیاحتي شرکت مسوول د ۴ زره پونډو په بدل کې له برېتانیا څخه افغانستان ته د سیلانیانو لپاره د سیاحت زمینه برابروي. که څه هم د برېتانیا حکومت خپلو وګړو ته لارښوونه کړې چې افغانستان ته له سفر کولو څخه ډډه وکړي، خو د دې ورځپاڼې د راپور له مخې، انځور اخیستونکي «جو شېفر» تېر کال څینې سېلانیان افغانستان ته راوړي دي. دغه ورځپاڼه زیاتوي، شیفر په پام کې لري چې په راتلونکو اونیو کې یوې سترې ډلې سیلانیانو ته هم افغانستان ته د سفر زمینه برابره کړي.

## سقوط یک چرخبال در ولسوالی خُلم سمنگان



یک چرخبال نظامی وزارت دفاع ملی دیروز در مربوطات ولسوالی خلم ولایت سمنگان به اثر برخورد با لین برق سقوط کرد.

وزارت دفاع ملی روز گذشته در تویتی گفت که حوالی ساعت ۹ صبح دیروز ص۷

### سرمقاله

## د ګاونډیانو توندې لهجې د هغوی د حسد نښه ده!

دا واقعیت له هېچا پټ نه دی چې افغانانو د څښتن تعالی د لوی فضل او خپلو مېړانو او سرښندنو په برکت د تېرو درې څلوېښتو کلونو په موده کې د ختیځ او لویدیځ دواړو نظامي زبرځواکونو خورا ستر ظالمانه یرغلونه دفع او خپل ګران هېواد یې د هغوی له اشغاله آزاد او بالاخره یې د میلیونو سرونو په قربانیو سره خپلواکي ترلاسه او ټول هېواد یې له یو مرکزي او ملي حاکمیت برخمن کړ.

دا چې په ټوله یاده موده کې هېڅکله داسې کوم حکومت نه و واکمن شوی چې د هېواد پر ګوټ ګوټ او لروبر بشپړ واک ته رسول شوی وي، له همدې امله دلته همېشه ګډوډې او خپلمنځي شخړې روانې وې. تر دې چې نه څوک د خپلو اوبو سمبالولو فکر کې و، نه د معدنیاتو او مهمو خامو موادو د خوندیتوب اندېښنه وه او نه د سرحدونو ساتنه. لنډه دا چې هغه مهال افغانستان د ګاونډیانو لپاره د هغه کنډواله کور په مثال و چې نه یې مالک حضور لري او نه کوم بل څوکیدار او ګاونډیان یې په ډاډه زړه له اوبو، خاورې، ونو، بوټو، خس و خاشاکو او هر څه نه استفاده کوي. سربېره پر دې د خپلو کورونو خځلې او ناوړه توکي هم وراچوي، د کلا دېوالونه یې هم په خپله خوښه ورسوري او لارې یې پکې جوړې کړې وي. له بده مرغه زموږ د هېواد وضعیت کاملاً همداسې و او ګاونډیانو ... ۲مخ

### شهید موسی شفیق او د هلمند د اوبو تړون!
۲ مخ

### امارت اسلامی در تلاش احیای اقتصاد کشور
صفحه ۳

### اخ؛ زما شهید رهبره...!!
٤ مخ

## بغلان کې د لسګونو معتادینو درملنه وشوه

د بغلان د امنیې قومندانۍ مسؤلین وایي، چې په نشه یي توکو روږدي ۳۰ کسان له بشپړې روغتیا وروسته خپلو کورنیو ته وسپارل شول. د مسؤلینو په وینا، د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې مدیریت له لوري راټول کړل شوي ۳۰ کسان تر ۴۵ ورځو درملنې وروسته خپلو کورنیو ته وسپارل شول.

د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم د دغه ولایت په نشه یي توکو د روږدو کسانو په دوو مرکزونو کې د سلګونو کسانو درملنه شوې ده.

## بامیانو کې ښوونځی جوړېږي



د بامیانو د مرکز اړوند دو آب چپ دره سیمه کې د UNHCR اداري په مالي ملاتړ د ۲۱ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه منځني ښوونځي د ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د بامیانو والي مولوي عبدالله سرحدي ویل، ۷مخ

## اهدای ۱۶ عراده واسطه نوع لندکروزر به هلال احمر افغانی



شانزده عراده موتر مجهز با سیستم مخابره از سوی کمیته‌ی جهانی صلیب سرخ در اختیار هلال احمر افغانی قرار داده شد.

دفتر مطبوعاتی هلال احمر افغانی دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفت که: این وسایط از نوع ص۷

## سږ کال د پنبې حاصلات زیاتېږي

د کرنې اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت په ټول هېواد کې د پنبې د تولیداتو له ډېرېدو خبر ورکړی. د دغه وزارت ویاند زیاتوي په روان کال کې ورښتونه وو او له همدې امله د تېر کال په پرتله به ... ۷مخ



### ریاست احصائیه بادغیس:

## نزدیک به ۱۰ میلیون افغانی عاید داشته ایم




نزدیک به ۱۰ میلیون افغانی عواید از توزیع تذکره در بادغیس به دست آمده است.

ریاست احصائیه و معلومات ولایت بادغیس در سال ۱۴۰۱ از درک توزیع بیش از ۱۱ هزار تذکره برقی و بیش از ۵۲ هزار تذکره کاغذی بیش از ۹ میلیون و ۷۳۰ هزار افغانی ... ص۷

## آغاز کار قیرریزی و کانکریت جاده‌ها...

اعلام کرده است که آسفالت و ترمیم بیشتر جاده‌های خامه‌ی شهر غزنی شروع خواهد شد.
از سوی دیگر در ناحیه دوم شهر غزنی کانکریت‌ریزی تعدادی از کوچه‌ها نیز شروع شده است. شهرداری غزنی اعلام کرده که هزینه این پروژه‌ها از بودجه انکشافی این اداره تامین می گردد.
شهروندان غزنی از آسفالت جاده‌ها خوشحال‌اند و خواهان عملی شدن پروژه‌های انکشافی به صورت عادلانه در تمام سطح شهر اند.
یک تن از شهروند غزنی بدون ذکر شهرت‌اش در این رابطه گفت که در دوره جمهوریت شهرداری فقط به محدود مناطق قلب شهر غزنی توجه کرده است و به مناطق حومه و نوسازی شهر هیچ‌گونه توجه نشده است و حال امیدوار هستیم که به انکشاف متوازن در تمام سطح شهر توجه شود.

## روسي پوهنتون لوړو زده کړو ...

ورکړې خبرې شوې دي. خبرپاڼه کې راغلي، چې د یاد پوهنتون مسولینو په اړوندو برخو کې د همکاریو ډاډ ورکړی دی. د یادونې وړ ده، چې د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستیال او د دغه وزارت د بهرنیو اړیکو او بورسونو د تنظیم رئیس دوه ورځې وړاندې د فدراتیفې روسیې ته د (روسیه او اسلامي نړۍ) کنفرانس کې ګډون په موخه د افغانستان اسلامي امارت لوړ پوړو چارواکو سره سفر کړی و، چې د کنفرانس ترڅنګ یې د یاد هېواد د بېلابېلو علمي او اکاډمیکو مرکزونو څخه لیدنه او له مسوولینو سره کتلي دي.

## د اسلامي امارت مسؤلین شپه و ورځ ...

چې په‌یاده کتنه کې دغو مشرانو له اسلامي امارت څخه د بشپړ ملاتړ په څرګندولو سره وویل، چې دوی د اسلامي نظام تر شا ولاړ دي او په دې برخه کې له هېڅ ډول قربانۍ دریغ نه کوي.
دغو قومي مخورو د اسلامي امارت د مشرانو له همکارۍ مننه وکړه چې تل یې د خلکو غږ اورېدلی او دروازې یې د ولس پر مخ پرانیستې دي.
دوی زیاته کړه، افغان ولس د اسلامي امارت د بریا لپاره زیاته قرباني ورکړه او اوس هم د اسلامي نظام د پایښت او بقا په موخه د خپلو مشرانو تر شا ولاړ دي.
راغلو مشرانو او دیني عالمانو څرګنده کړه، چې د اسلامي امارت په بریا سره یې یو شمېر ستونزې هوارې شوې او د پاتې مسایلو د حل په موخه یې خپل وړاندېزونه د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال او کفیل سره شریک کړل.
ورته مهال د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل مولوي عبدالکبیر د هودخېلو او په کابل کې د لویې پکتیا مېشتو مشرانو ته د هرکلي ویلو ترڅنګ وویل، د اسلامي امارت مشران او مسوولین شپه او ورځ نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کوي ترڅو د افغانانو ستونزې هوارې کړي.
مولوي عبدالکبیر د خپلو خبرو په پای کې وویل، چې د ولس او حکومت تر منځ د واټن له منځه وړل د اسلامي امارت موخه ده او د افغانستان اسلامي امارت مشران هم د همدې موخې لپاره شپه او ورځ زیار ګالي.
د یو بل خبر له مخې، د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل مولوي عبدالکبیر تېره ورځ د خوست ولایت د ګربزو له یو شمېر قومي مخورو او مشرانو سره وکتل.
د ریاست الوزرا مطبوعاتي دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د ګربزو قومي مخورو له اسلامي امارت څخه په ملاتړ وویل، د اوسني حکومت په هلوځلو په ټول هېواد کې امنیت تامین، د لویو بدبختیو لمن ورټوله او افغانان د واحد نظام تر چتر لاندې ژوند کوي.
دوی زیاته کړه، ګربز هم لکه د نورو وروڼو قومونو په شان له حکومت سره هر ډول همکارۍ ته حاضر دي.
د دغو مشرانو په وینا په خوست کې قومي جوړښتونه له سیمه ییزو چارواکو سره همغږې او له نږدې ورسره همکاري کوي.
ورته مهال د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل مولوي عبدالکبیر راغلو قومي مشرانو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې د ګربزو ولس په شل کلن جهاد کې خپل کورونه هم د مجاهدینو خدمت ته وقف کړي وو او د نورو افغانانو په څېر یې په یاده موده کې سختۍ او تکلیفونه وګالل.
نوموړي د خپلو خبرو په پای کې وویل، اسلامي امارت د ټولو ولسونو په چوپړ کې دی او دوی هر وخت کولای شي چې په زغرده خپل وړاندېزونه او غوښتنې ورسره شریکې کړي.

## د ګاونډیانو توندې لهجې د هغوی ...

هم زموږ لپاره د همداسې یو حالت دوام غوښت. دغه راز بهرنو اشغالګرو ځواکونو هم تل دا هڅه کوله چې زموږ په اوبو او نورو خامو موادو ګاونډي هېوادونه خوشاله وساتي او ورته وښیي چې دلته د ناټو د نظامي اډو د شتون په برکت به هغوی له دغه شان امتیازاتو برخمن وي. مثلاً اوبو ته به څوک غرض نه کوي او پرېمانه به هغوی ته وربهېږي، د ډیورند فرضي کرښه به فزیکي بڼه کې له دېوالونو او دروازو سره وجود ومومي او د دې هېواد له هر ډول خامو توکو به لامحدوده ګټه اخلي.
خو د لوی خدای (جل جلاله) اداره بل څه وه، بهرني بدماش ځواکونه د یو شمېر تش لاسو مجاهدینو له خوا وشړل شول او کورني اجیران یې تر هغوی لا مخکې په تېښته بریالي شول. په دې توګه افغانان یو ځل بیا د یو ټینګ، متحد، مرکزي او ملي حاکمیت پر جوړولو وتوانېدل او په کلک هوډ سره یې د خپل هېواد ودانولو او بسیا کولو ته ملاوتړله. له نېکه مرغه اوس د وطن د هر ډول شتمنۍ پوښتنه او ساتنه کېږي او په هیڅ صورت بل چاته اجازه نه ورکول کېږي چې زموږ ملي ګټو ته څه خطر او زیان پیښ کړي. خو بل لورته د ځینو ګاونډیانو لپاره بیا زموږ دا حالت ښه ډېر ناخوښه دی. هغوی اندېښمن او خپه دي، هغوی پوهېږي چې اوس د دې کور مالکان راغلي او دوی نه شي کولی تر دې وروسته یې له مهمو موادو هماغسې ارزانه او بې غمه استفاده وکړي. بلکې هر څه به ګرانېږي او پوره پوره حساب به کېږي.
یقیناً همدا وجه ده چې پر هغوی د حسد اور بل شوی او وخت ناوخته یې د توندو لهجو په شکل له زړه غوسې راوځي. خو ګر د افغان ملت - حکومت او رعیت ژمن دی چې خپلو مسلمانو ګاونډیانو سره به د اسلامي اخوت پر اساس تر خپله وسه ښه او دوستانه چلند کوي او له دوی هم غواړي چې موږ سره فقط د اسلامي وروروګلوۍ او متقابل درناوي پر اصولو مناسب چلند وکړي. یوازې همدا اصل د ټولو لپاره د خوښۍ او سوکالۍ ضمانت کوي.

# شهید موسی شفیق او د هلمند د اوبو تړون!

خالد مشعل



شهید محمد موسی شفیق د مولوي محمد ابراهیم کاموي زوی، چې د ننګرهار د کامې ولسوالۍ اوسېدونکی و، په ۱۳۰۸هـ ش د جوزا په ۵مه یې کابل کې نیمګړې نړۍ ته سترګې وغړولې.
شهید شفیق لومړۍ زده کړې د کامې او کابل په مدرسو او ښوونځیو کې وکړې، بیا د ننګرهار نجم المدارس کې شامل شو او له هغه وروسته د کابل دارالعلوم عربي کې داخل او دوه کاله وروسته له هغه څخه فارغ شو. له فراغته وروسته یې په شاهي دارالتحریر کې دنده پیل کړه، چې څه موده پس د لوړو زده کړو وزارت له لوري د لوړو زده کړو لپاره مصر ته واستول شو، چې هلته یې په حقوقو کې ماسټري ترلاسه کړه، له هغه وروسته د امریکا ـ نیویارک د کولمبیا پوهنتون څخه د بین الدول حقوقو کې بله ماسټري واخیستله. همداراز یې د هارډوارډ پوهنتون څخه په نړیوالو مسائلو کې سند تر ګوتو کړ.
نوموړی چې خپل ټاټوبي ته راستون شو، نو کابل پوهنتون کې د ځانګړو نړیوالو او پرتله ییزو حقوقو تدریس ور په غاړه شو. دغه راز د بهرنیو چارو وزارت مشاورت ور وسپارل شو. شهید شفیق په عدلیه وزارت کې هم په اخلاص سره دنده ترسره کړه، په یونان کې یې د حقوقپوهانو په کنفرانس کې ګډون وکړ او همداراز په لاهور کې یې د ختیځپوهانو په غونډې کې برخه واخیستله او د خپل هېواد بریالی استازیتوب یې وکړ. شهید شفیق یو نامتو، وتلی ډیپلومات و چې په ډېرو نړیوالو غونډو کې یې د خپل ټاټوبي شمله هسکه وساتله. په قاهره، بېروت او خرطوم کې یې د سفیر په حیث دندې ترسره کړې. او د ډاکټر عبدالظاهر په کابینه کې د بهرنیو چارو وزیر و. شهید استاذ شفیق په ۱۳۵۱هـ ش د پاچا محمد ظاهرشاه له لوري د لومړي وزیر په منصب دکابینې په جوړولو مامور شو، چې دا مهال د هېواد حالات خورا کړکېچن او د ګران وطن ازلي دښمنان هر لوري ته په کمین کې ناست وو. ډاکټر موسی شفیق له ایران سره د هلمند سیند اوبو تړون لاسلیک کړ او هغه ستونزه یې هواره کړه او نوموړي هوډ لاره چې د پښتونستان مسئله هم حل کړي، ولې له نوموړي سره ژوند وفا و نه کړه. لومړی د سردار داود خان د سپینې کودتا په ترځ کې بندي شو، چې دوه نیم کاله یې د قید و بند خوند وڅاکه او بیا دوهم وار سرو کمونیستانو بندي کړ، چې د ۱۳۵۷ هـ ش د غوایي په ۲۴مه یې په ډېره وحشیانه توګه شهید کړ، چې عمر یې ۴۹ کاله و.
شهید شفیق هم سیاستوال و هم قلموال، هم استاذ و هم شاعر؛ د عبقریان په نوم یې د لنډو کیسو ټولګه او د ننګرهار شاعران په نوم کتابونه ترې پاتې دي. همداراز یې په کورنیو او بهرنیو رسنیوکې ۱۲۰ مقالې کښلې. نوموړي په پښتو، دري، عربي، انګلیسي، اُردو او فرانسوي روانې خبرې او لیکنې کولې.
د هلمند سیند اوبو په اړه د موسی شفیق او د ایران لومړي وزیر ترمنځ یو تړون لاسلیک او د اوبو ستونزه یې د ښه ګاونډیتوب او ګډو ګټو په اساس تلپاتې حل و فصل کړه، څو دواړه هېوادونه د دوستانو په حیث ژوند سره وکړي، نه د رقیبانو په څېر. د هلمند اوبو تړون یو بند داسې دی، چې ایران ته کومې اوبه د تړون له مخې ورکړل شوې، له هغه زیاته د اوبو ادعا نشي کولی. لنډه دا چې اوبه د ښه نیت په اساس ایران ته ورکړل شوې دي.
د افغانستان اسلامي امارت په داسې وخت کې دوهم ځل واک ترلاسه کړ، چې په هېواد کې هر څه د صلیبیانو د یرغل له امله ګډوډ شوي وو او ګاونډیانو هم له دې فرصته استفاده کړې وه. ایران ته هم زمونږ له سیندونو بې دریغه اوبه ورغلې وې. او زمونږ له اوبو څخه یې خورا زیاته ګټه اخیستې وه. نو اوس په رسنیو کې د ایراني چارواکو شور ماشور په غیر ډیپلوماټیکه توګه پورته شو، چې دا د دوی (ایرانیانو) په ښه نیت باندې دلالت نه کوي.
په رسنیو کې داسې څرګندونې کول له نړیوالو اصولو سره ښکاره ټکر دی، باید اجتناب ترې وشي او اصولي لارو ته مخه کړل شي، یعنی ایران باید زمونږ د بهرنیو چارو او د اوبو او برېښنا وزارتونو له چارواکو سره اړیکې ټینګې کړي او د اوبو ستونزې حل ولټوي. هسې د زور غیرډیپلوماټیکې څرګندونې نه دي پکار.
ټیټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه
زه په دې اُفتادګۍ کې لوی ګړنګ یم
د افغانستان اسلامي امارت د هېواد پخواني تړون ته ژمن دی او ایران ته چې د اوبو کوم حق ورکړل شوی، په هغه عمل کوي.

# طرفهای ایران و افغانستان به خاطر آب بین خود درگیر نخواهند شد

آگاهان امور نظامی و سیاسی می‌گویند که دولت مردان ایران به هیچ عنوان با امارت اسلامی بر سر منافع که در افغانستان دارد، به ویژه مسئله آب درگیر نخواهند شد.
به گزارش «آوا»، این اظهارات آگاهان امور در حالی مطرح می‌شود که چند روز پیش، رییس جمهور ایران به لحن تندی خواهان حق آبه این کشور از دریای هلمند شده بود، که سخنان رییسی با واکنش‌های از سوی مقامات امارت اسلامی رو برو شد، این واکنش‌ها باعث شد، معاون رییس ستاد ارتش ایران « شام روز شنبه ۳۰ثور» برای حل مشکل به وجود آمده وارد کابل شود.
خالد صادقی، آگاه امور نظامی در صحبت با آوا گفت: ایران از نگاه اقتصادی و امنیتی در بین کشورهای منطقه آسیب پذیر است، از این جهت دولت مردان این کشور به هیچ عنوان با امارت اسلامی بر سر منافع که در افغانستان دارد، به ویژه مسئله آب، وارد جنگ نخواهد شد.
او با بیان اینکه مسائل کوچک مانند آب و مشکلات مرزی نمی‌تواند سبب جنگ بین دو کشور گردد افزود: رهبران دو کشور می‌دانند که جنگ به نفع هیچ کشور نیست، از این رو با فرستادن هیئت تلاش می‌کنند که اختلافات شان را از راه گفتگو حل کنند.
همزمان با افزایش تنش‌ها میان امارت اسلامی و جمهوری اسلامی ایران بالای آب هلمند، معاون ستاد کل نیروهای مسلح جمهوری اسلامی ایران به کابل آمده است.
وزارت دفاع امارت اسلامی (روز شنبه ۳۰ ثور) در خبرنامه‌ای نوشته که بهرام حسینی مطلق، با حاجی مالی خان، معاون رییس ستاد ارتش افغانستان دیدار کرده است. در خبر نامه آمده است که در این دیدار حاجی مالی خان صدیق، معاون رئیس ستاد ارتش افغانستان از همکاری‌ها و روابط نیک ایران و افغانستان یاد کرده و گفته است که حکومت امارت اسلامی همواره خواهان روابط نیک با جمهوری اسلامی ایران بوده و متعهد به همکاری‌های بیشتر در زمینه‌های گوناگون است.
در همین حال احمد فواد نیازی، آگاه روابط بین الملل نیز در صحبت با آوا گفت که کشورهای همسایه اختلافات شان را با افغانستان باید از راه دیپلماسی حل کنند، زیرا با جنگ هیچ کشور به منافع خود نمی رسد.

## روسیه برای کارکنان افغان زمینه‌ی...

تأکید کرده است.
وی بیان داشته است که فدراتیف روسیه از کارکنان مسلکی و غیرمسلکی افغانستان حمایت و زمینهٔ کار را برای شان در داخل روسیه فراهم می‌کند.
آقای ویچ، هم‌چنان در مورد راه‌های ترانزیتی جهت انتقال اموال صادراتی فدراتیف روسیه از طریق ازبیکستان، ترکمنستان و افغانستان به آب‌های گرم صحبت کرده است.
طبق یک خبر دیگر؛ نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت، در دیدار با رستم مینیخانوف رئیس جمهوری تاتارستان، در مورد روابط دو جانبه بحث کرده و از وی خواسته است که به افغانستان سفر کند.
رئیس جمهوری تاتارستان وعده داده است که در زمان مناسب به افغانستان سفر خواهد کرد.
گفتنی است که یک هیئت امارت اسلامی افغانستان که در رأس آن سرپرست وزارت صنعت و تجارت قرار دارد؛ اخیراً جهت اشتراک در نشست بین‌المللی اقتصادی ۲۰۲۳ روسیه، به آن کشور سفر کرده است.

# امارت اسلامی در تلاش احیای اقتصاد کشور

**اسفندیار**



پس از به حاکمیت رسیدن امارت اسلامی افغانستان آنچه از منظر اقتصادی در این کشور اتفاق افتاده و یا در شرف وقوع می‌باشد بی مانند بوده و تاریخ افغانستان حد اقل در پنج‌دهه اخیر گواه چنین ساخت و سازها نبوده است.

امارت اسلامی با رویکرد فعال اقتصادی تا کنون ثابت کرده و توانسته اقتصاد شکننده کشور را به خوبی نظم و نسق دهد و از حاشیه به متن بکشاند.

پیش از این افغانستان همواره متکی به کمک‌های جامعه ملل بود و در تطبیق پروژهای زیر ساختی نمی‌توانست مستقلانه عمل کند. اما در کمتر از دو سال شهروندان گواه رویدادهای بزرگ اقتصادی بودند که با تطبیق آنها این کشور گام بلندی را در راستای خودکفایی و رشد اقتصادی برداشته است.

با این حال دو روز قبل ملا عبدالغنی برادر معاون اقتصادی رییس الوزرا و عبداللطیف منصور، وزیر وزارت انرژی و آب کار ساخت کانال‌های بند بخش آباد فرارود را برای آبیاری زمین‌های زراعتی در ولایت فراه افتتاح کردند.

آقای برادر در مراسم افتتاحیه این کانال گفت: «بند بخش آباد یک پروژه مهم و حیاتی برای ولایت فراه است و ما در تکمیل این پروژه در کنار مردم فراه استیم. ما این قول را فقط در حرف نه بلکه در عمل با اخلاص فراوان انجام خواهیم داد.»

او این پروژه را در جهت حل مشکلات مرم فراه دانست و گفت که «باید سال گذشته تلاش می‌کردیم تا امسال آب این سد را ذخیره کنیم و هدر نرود.»

معاون اقتصادی رییس الوزرا تاکید کرد: «از امکانات موجود برای تکمیل کارهای باقیمانده بند بخش آباد استفاده خواهیم کرد و همچنین از شرکت قراردادی می‌خواهیم کارهای محوله را با صداقت و اعتماد به پایان برساند.»

گفته می‌شود بند بخش آباد ظرفیت آبیاری بیش از ۶۸ هزار هکتار از اراضی زراعتی با کانال ۵۰ کیلومتری سمت راست و ۵۲ کیلومتری کانال در سمت چپ را دارد که به زودی کار آن تکمیل خواهد شد.

در کنار اینکه در حال حاضر افتتاح این کانال چقد ایجاد اشتغال‌زایی و فرصت‌های کاری را برای باشندگان آن ولایت به میان آورده است، اما با بهره برداری این کانال بی‌گمان تغییرات قابل ملاحظه‌ای بر وضع زندگی ساکنین در ولایت فراه رونما می‌گردد و تاثیرات غیر مستقیم آن بر زندگی تمام شهروندان افغانستان دیده خواهد شد.

از سوی هم یکسال و اندی قبل با روی دست گرفتن پروژه بنیادی بند قوش‌تیپه در ولایت فاریاب از بودجه ملی که یک چشم انداز روشن برای توسعه اقتصادی کشور را تعریف میکند و باعث ایجاد هزاران شغل در آن ولایت شده است، یک اقدام بی مانند دیگر بود که حد اقل در نیم قرن گذشته در افغانستان پیشینه نداشته است.

ثبات پول افغانی، تمویل بدوجه ملی از عواید داخلی، افزایش بیلانس صادرات و افتتاح ده‌ها پروژه خرد و بزرگ از مواردی دیگر است که می‌توان به آن به صفت گام‌های مهم اقتصادی اشاره کرد.

امارت اسلامی تا کنون حمایت همه جانبه از تجاران و سرمایه گذاران داشته و با توجه به آن ۲۰ ماه ثور را به عنوان روز ملی صادرات نام گذاری کرد و به تعقیب آن هفته چهارم ماه ثور به عنوان«هفته صنعت» از سوی حکومت گرامی داشت شد و به مناسبت آن نمایشگاه بین‌المللی کابل برای چندمین روز برگزار گردید و مقامات حکومت امارت اسلامی در روز افتتاح و اختتام این نمایشگاه گفتند که امارت اسلامی آماده فراهم آوری هر نوع تسهیلات برای صنعت کاران می‌باشد. آنها تأکید کردند که آماده فراهم سازی تمام تسهیلات لازم برای سرمایه گذاران خارجی و داخلی و همچنان صنعت کاران می‌باشند.

در جنب این‌ها اخیراً وزارت خارجه امارت اسلامی در یک اعلامیه از افتتاح دهلیز تجاری میان چین و پاکستان که افغانستان هم جزی از این پروژه می‌باشد استقبال کرده و گفته است که با ایجاد این دهلیز افغانستان با کشورهای منطقه و اروپا وصل خواهد شد.

با این همه و در نگاه کلی می‌توان اذعان داشت که امارت اسلامی با توجه به اهمیت اقتصاد در جامعه و کشور رویکرد فعال و همه جانبه را در این زمینه روی دست گرفته و تلاش می‌کند تا افغانستان را از بحران اقتصادی که پیوسته سر دچارش بوه نجات دهد و اقتصاد شکننده را به رشد و بالندگی برساند.

هرچند این مسیر ممکن فراز و نشیب‌های را به همراه داشته باشد و برخی مداخلات و سنگ‌اندازی‌ها را از سوی شماری از کشورها در پی داشته باشد، اما اراده قاطع حکومت می‌تواند بر همه نابسامانی‌ها غالب شود و یک اقتصاد پویا و مطمین برای افغانستان را رقم بزند. بناً می‌طلبد تا شهروندان نیز در کنار حکومت امارت اسلامی افغانستان بی‌ایستند و این حکومت را در راستای به تحقق رساندن افغانستان به یک جایگاه بلند اقتصادی که مردم و نظام سزاوار آن است همکاری کنند.

# ګواښل حللاره نه؛ باید شته واقعیتونو ته غاړه کېښودل شي

**تبصره - باختر**



هغه کسان چې د رهبرۍ په لومړي کتار کې دي باید د ګاونډيو هېوادونو په اړه مثبتې څرګندونې ولري که دا کار نه شي کولای نو ستونزې دې هم نه رامنځته کوي.

د باختر آژانس مبصر ليکي: د ايران جمهور رييس سيد ابراهيم رئيسي؛ په سيستان ولايت کې له افغانستانه د حقابې غوښتنه کړې او ګواښ يې کړی که چېرې دوی ته د هلمند له سينده حقابه ورنه کړل شي بيا دې ګيله نه کوي.

دا په داسې حال کې ده چې اسلامي امارت د ايراني چارواکو له تندو څرګندونو وروسته د ګاونډي هېواد له چارواکو سره د ښه نيت په توګه، غبرګون وښود او له هغوی سره يې د دوو اړخيزو او څو اړخيزو تړونونو پر رعايتولو ټينګار وکړ.

اسلامي امارت په يوې خپره کړې اعلاميه کې ويلي چې له ايران سره د ۱۳۵۱ کال تړون ته ژمن يو، خو خبره دا ده چې د ايراني چارواکو دريځ د هغوی د اطلاعاتو له نشتوالي سرچينه اخلي، که چېرې هغوی ياد تړون مطالعه کړی وای داسې بې مسئوليته څرګندونې به يې نه کولې، دوی په دې ورستيو کلونو کې د اقليم بدلېدو ته هېڅ پام نه کوي او صرف همدا يوه خبره کوي چې موږ ته د هلمند اوبه را خوشې کړئ.

د ايراني دوستانو وروستۍ څرګندونې ښيي چې يا دوی د افغانستان په ګډون د خپل هېواد او شاوخوا هېوادونو د هوا د حالاتو له واقعيتونو خبر نه دي او يا نه غواړي له دغو واقعيتونو خبرشي.

د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد وايي (د ايران جمهور رييس سيد ابراهيم رئيسي وروستۍ څرګندونې به د کابل او تهران ترمنځ سياسي اړيکو ته زيان ورسوي) ځکه د وچکالۍ له امله په دغه سيند کې د اوبو کچه راټيټه شوې او په کافي اندازه اوبه شتون نه لري.

اسلامي امارت د مسئلې په اړه معقول نظر لري او د سختو ادبياتو د کارولو پر ځای د ډيپلوماسۍ او خبرو له لارې د ستونزو حل ته لومړيتوب ورکوي او د نامناسبو الفاظو کارول د دواړو هېوادونو په خير بولي.

دا په داسې حال کې ده چې د سيستان خلک د ايران له دولته ناراضه دي او دولت له هغوی سره مذهبي تبعيضي چلند کوي،نو د هغوی چارواکي غواړي چې په ځينو حاشيوي خبرو د هغوی پام غلط کړي او داسې چلند ورسره کوي، چې ګواکې د دوی د هوسا ژوند لپاره هر کار ته چمتو دي.

اسلامي امارت په دې برخه کې د واقعيتونو پر بنسټ د خبرو او د ډيپلوماسۍ د دوام غوښتنه کوي، د زور او ګواښونو د ژبې کارول او د غير متوازن او له تاوتريخوالي د ډکو ادبياتو کارول د دواړو ملتونو په زيان بولي، چې بايد مخنيوی يې وشي.

# د غرب اصلي څېره!

**دادمحمد ناوک**

د امريکا په اوهايو کې څو ورځې وړاندې يوې ۷۷ کلنې بوډۍ «ډوټي فاوډلي» له خپل ځان سره واده وکړ. دا وايي چې څلوېښت کاله وړاندې يې له يو چا سره واده وکړه له نهه کاله ګډ ژوند وروسته ترې بېله شوه. له هغه راهيسې يوازې اوسي، اوس يې خپل دا تصميم عملي کړ چې له خپل ځان سره واده وکړي، غرب کې دې ته «sologamy» اصطلاح کارېږي، چې «Marrying yourself» هم ورته وايي.

د غرب لوېدلي تهذيب د داسې زرګونو ننداړو شاهد دی، له دې بوډۍ وړاندې د «صوفيا» په نوم يوې نجلۍ له ځان سره د واده اعلان وکړ، خو يوه ورځ وروسته يې بيا تصويرونه خپاره کړل چې «طلاق يې واخيست»!

له ونې، بوټو، حيواناتو، مشهورو ځايونو، کورنيو وسايلو او حتی ځان سره واده، په غرب کې د واده هغه مفهوم نه رسوي، چې په شرقي ټولنو په تېره بيا ديني ټولنو کې پرې باور موجود دی، هلته دا واده، د واده مراسم او د داسې ودونو اعلان يوازې د دې لپاره کېږي چې د غرب په تهذيب کې د اشرف المخلوقات«ښځې» وجود د استفاده جويۍ او ساتېرۍ په وروستي حد کې دی، په دې ډول غربي ښځې غواړي، چې غربي نارينه وو ته د خپلې کرکې شدت ور وښيي؛ هغو نارينه وو ته چې په نورو ټولنو کې د ښځو د حقونو د پايمالېدو په نامه کلستړ بمونه اورول هم روا بولي.

يوې يې څو کاله وړاندې په واز کومې هغه رسنيو ته چې مايکونه او کمرې يې نارينه‌و ورته نيولې وويل، له دوه سوه ډېرو نارينه و سره يې جنسي اړيکې پاللې، خو اوس يې له سپي سره واده کړی او په وينا يې دا سپی تر هغو سلګونو نارينه و «شرف لري.»

غربي تهذيب يوازې په زور په نړۍ کې د ځان مطرح کولو په هڅو بوخت دی، خو دا ټکنالوژيکي زور د اخلاقي سيندونو پر وړاندې د شګو بندونه دي چې ډېر دوام نه شي کولی، دا زموږ ايمان دی چې راتلونکی د اسلام دی، چې د ذلت په کنده د ولاړې غربي ښځې تر پښو لاندې به هم جنت موندل کېږي! ان شاءالله



# شهید منصور رحمه الله، د قربانۍ په اوج کې...!!

قاري عبدالستار سعید

په هره ټولنه او فرهنګي حوزه کې د انسانانو لپاره د شرف او لوړتیا ځانګړي معیارونه شتون لري، چې د هغو پر اساس د افرادو تول کېږي او مقام یې تشخیصېږي. په اسلامي ټولنه کې دغه معیارونه زموږ دیني معتقدات دي. په اسلامي قاموس کې یو مسلمان په دې ترازو وزن کېږي چې له خپل رب جل جلاله سره څومره مینه لري؟ له خپل پیغمبر (ص) سره د عشق او محبت ګراف یې څومره دی؟ د خپل دین اسلام د ساتنې او لوړتیا لپاره تر کومه حده قربانۍ ته حاضر دی؟ او بالاخره کله چې د ایثار صحنه راځي تر کومه حده خپل عشق ثابتولی شي.

له خپل محبوب او معتقد بها سره مینه او محبت هغه څه دي چې د عاشق اصلي توښه بلل کېږي. څومره چې دغه مینه زیاته وي، اورنۍ وي، هیجاني وي او خارق العاده وي همدومره د مینې د لاروي په اصالت او کمال دلالت کوي. د مینې د کمال بېلابېل مراتب د خلکو ترمنځ شهرت لري. په عربي ادب کې د وامق او عذراء مینه، په هندي فرهنګ کې د هیر او رانجا محبت او په عام اسلامي ادب کې د مجنون او لیلا عشق هغه افسانې دي چې د پیړیو له تېرېدو وروسته لا هم زموږ د شاعرانو پر ژبو دي، خو په دې عاشقانو کې یو هم داسې نشته چې د خپل معشوق لپاره یې ځان په اور لولپه کړی وي.

په عام عرف کې له ګل سره د بلبل مینه هم اورنۍ مینه بلل کېږي. ځکه بلبل د ګل دیدن ته د اغزو په څوکو ورځي او خپله سینه په هغو اغزو زخمي کوي چې الله تعالی د دې لطیف موجود( ګل) د حفاظت لپاره د هغه په شاوخوا راګرځولي وي.

اما یو بل درد شته چې تر زخمي کېدو سخت دی او هغه د بدن په اور سوځېدل دي. په همدې اساس خو د عشق نهایي مرتبه هغه تاکل شوې، کله چې عاشق د خپل محبوب لپاره ځان په اور وسوځوي. په همدې اساس خو شاعران پتنګ یا پروانه هغه عاشق بولي چې د عشق وروستنۍ مرحله یې طی کړې ده.

نه هر خامی زپایان شب عاشق خبر دارد

که فصل آخر این قصّه را پروانه میداند

پتنګ یا پروانه هغه یوازینی عاشق دی چې خپل معشوق ( شمعې) ته د رسېدلو لپاره ځان په اور سوځوي، خو له سوځېدو سره سره یې هیڅ فریاد هم نه پورته کېږي. په همدې اساس خو د پتنګ عشق تر بلبل ډېر اصیل او لوړ ګڼل کېږي.

شاعر وایي:

نالیدن بلبل ز نوآموزی عشق است

هرګز نشنیدیم ز پروانه صدایی

د فارسي ادب لوی شاعر شیخ سعدي هم بلبل ته نصیحت کړی چې عشق دې له پتنګه زده کړي.

ای مرغ سحر عشق ز پروانه بیاموز

کان سوخته را جان شد و آواز نیامد

این مدّعیان در طلبش بی خبرانند

کآنرا که خبر شد خبری باز نیامد

خو تاسو به وایاست، چې انسان خو اشرف المخلوقات دی او د الله تعالی په ټول مخلوق کې برتر او مخکښ موجود دی، نو بیا څرنګه امکان لري چې د پتنګ په شان یو کوچنی مخلوق دې د عشق او مینې په شان په یوه عمده موضوع کې له انسانه سبقت وکړي؟ آیا پتنګ واقعاً په یوازې سر د مینې تر ټولو دنګه څوکه فتحه کړې او په دې کارنامه کې یوازې دی؟؟ ځواب دا دی چې نه هېڅکله نه؟ که افسانوي عاشقانو لکه مجنون او وامق د پتنګ مقام ته ځان ونه رساوه، اما د الله تعالی د لارې داسې دلسوخته عاشقان شته چې د پتنګ غوندې یې د دین په مینه ځانونه لولپه کړل او په دې ډول یې د قربانۍ، ایثار او فداکارۍ تر ټولو دنګ مینار فتحه کړ.

د نړیوال صلیبي یرغل په وړاندې زموږ اتلس کلن جهاد یوازې د متقابلو اړخونو د نامتوازنو امکاناتو له امله بې سارې واقعه نه وه، بلکې په دې جهاد کې د (استشهاد) کارنامه د قربانۍ هغه نمونه وه چې تر دې لوړ د عشق او ایثار د کومې مرتبې تصور نه شي کېدلای.

په دې سربېره کله چې د جهادي صف زعیم او مشر همداسې قربانۍ ته امادګي ښیي، نو د اخلاص او فداکارۍ وروستنی حد ګڼل کېدای شي. لوی عالم او مدرس مولوي عبدالبصیر صاحب حکایت کوي چې یو وخت مې شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمدمنصور صاحب ته د فدایانو عرائض او شکایات ورسول. شهید منصور صاحب راته وویل چې فدایانو ته ډاډ ورکړه چې که مې ستاسو په شان ځان په دین لولپه نه کړ نو بیا مې مه منئ.

هو کې، هغه رښتیا ویل: هغه واقعاً ځان همداسې په دین لولپه کړ.

د اسلامي امارت د رهبرۍ شورې غړي او د مشرتابه دفتر رئیس جناب متقي صاحب چې د شهید منصور صاحب جسد یې لیدلی و، راته وویل چې د شهید منصور صاحب بدن داسې سوځېدلی و چې د بدن پوستکی یې تور سکور ګرځېدلی و او پېژندل یې سخت وو. کله مې چې د ده دا حالت ولید له ځان سره مې وویل چې تر دې نو زیاته قرباني نشته. که څوک غواړي واقعاً د الله تعالی په لاره کې ځان قربان کړي هغه نو باید داسې قرباني ورکړي.

واقعا!

د اسلامي امارت زعیم شهید ملا اختر محمد منصور صاحب له خپل دین سره د مینې او ژمنتیا هغه ثبوت وړاندې کړ چې هېڅوک ترې انکار نه شي کولای. نوموړي داسې قربانۍ ورکړه چې تر هغه پورته قرباني متصوره نه ده.

نو شهید امیره!

دربانډې ویاړو! او د قربانۍ اوج ته د رسېدو مبارکي درکوو.

رب دې سوځېدلی وجود وبښه!　　آمین

# اخ؛ زما شهید رهبره...!!

انس افغان

د تاریخ په رڼا کې معلومېږي چې په هر عصر، هر بخش او څانګه کې بعضې داسې کسانو شتون درلودلی چې د هغوی شتون د هغه بخش د پیاوړتیا، پرمختګ، او د تکمیل لازمي جزء ګڼل شوی وای. د هغوی وجود د هغه بخش د ترقۍ او کامیابۍ لامل ګرځېدلی وای. د هغوی په اهلیت، ځراکت او په ویاړمن موقف نړۍ ته د هغه بخش لیاقت څرګند شوی وای.

همدا شان د شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ زعامت او رهبري د اسلامي امارت د پیاوړتیا یو ستر لامل وګرځېده. د هغوی بصیرت، ځراکت، ښې سابقې، ستر شخصیت، لوړ عزم او د شجاعت، او شهامت تر سیوري لاندې د هغوی ستر ویاړمن موقف نړۍ ته د امارت اسلامي موقف، نظامي قوت، سیاست او بصیرت روښانه کړ، اسلامي امارت یې نړۍ ته د یو پیاوړي اسلامي سیاسي خوځښت په نوم ور وپېژانده.

شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ د خپل ذاتي صفاتو لکه: اخلاص اوتقوی، شجاعت اوغیرت، سیاست اوبصیرت، د دې هر څه علاوه د اسلامي تربیت نړیواله اسلامي مدرسه، د جهادي اعداد نړیوال اسلامي عسکر، د سیاسي بصیرت نړیوال اسلامي سیاسي دفتر او د نظامي ډګر نړیوال جهادي سنګر و.

شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ په خپل ویاړمن سیاست او بصیرت د اسلامي امارت هغه خلاوې ډکې کړې، له کومو چې اشغالګرو او ګوډاګیانو فکري او نظامي بریدونه کول.

هغه د اسلامي امارت خوځښت ته داسې نړیوال شکل ورکړ چې دښمن هم ګوته په غاښ ورته حیران پاتې شو.

هغه په داسې وخت کې اسلامي امارت منظم، متحد او پیاوړی کړ، چې دښمن یې د بې نظمۍ، اختلاف، او ضعف شیطاني خوبونه لیدل.

هغه د دښمن هغه دسیسې، چل او مکر د اوبو سره لاهو کړ، د کوم لپاره چې کفري نړۍ د ناټو په نوم اتفاق کړی و.

هغه په ډېر تدبر د داعشي فتنې او بغاوت پر ضد کامیاب ګامونه پورته کړل، که چېرې هغه وخت د دې فتنې مخنیوی نه وای شوی، اوس به هم د اسلامي امارت په مخ کې ډېر خنډونه وای.

د شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ اخلاص اوتقوی، سیاست اوبصیرت، او د قدرت نه شوق د



دې څخه واضح څرګندېږي چې:

هغه د خپل اخلاص په برکت خپل زعامت او رهبري په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې په ډېر بصیرت او پوره اخلاص سره څو کاله مخفي وساتل.

هغه د خپل بصیرت په رڼا کې د ملا صاحب مرحوم د وفات خبر د مجاهدینو د عزم او مورال د قوي ساتلو په خاطر څو کاله له هغوی مخفي وساته.

هغوی د خپل نوم او نښان د پټ ساتلو په خاطر خپله مبارزه او رهبري د یو مجاهد په صفت څو کاله په داسې مېړانه پر مخ یووړل چې د اسلامي امارت په سپېڅلي صف کې هیڅ تغییر او بدلون هم رانه غی.

کله چې بیا د اسلامي امارت لخوا د محترم ملا صاحب ـ رحمه الله ـ د وفات د خبر تصدیق شو، هغه وخت د اسلام د دښمنانو لخوا د اسلامي امارت د متحد صف د ټوټه ټوټه کولو کوششونه، او تبلیغاتي ضربې ډېرې زیاتې شوې، چې د اختلافاتو خوا ته مختلفې لارې په مختلفو بڼو پرانیستل شوې.

شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ هغه وخت د خپل سیاسي بصیرت په رڼا کې د مجاهدینو د مورال د قوي کېدو لپاره د کندز ښار د نیولو امر ورکړ.

د کندز ښار فتح شو دا یوازې نظامي فتحه نه وه، بلکې په حقیقت کې داسې سیاسي کارنامه وه چې د یوې خوا د مجاهدینو روحیه په کې تازه شوه او له بلې خوا دښمن ته په یوه وخت کې داسې سیاسي، فرهنګي او نظامي پېچلې زوروره ضربه ورکول شوه، چې د دښمن ټول هغه تبلیغات د مجاهدینو ترمنځ د اختلاف پیداکولو لپاره یې کول هغه ختم، اختلاف یې هیر او په خپل غم اخته شول.

د مجاهدینو پاملرنه او فکر بېرته د خپلې سپېڅلې مبارزې خواته را جلب شو او د دښمن پاملرنه او فکر له تبلیغاتو څخه د ارګ د د ډوالونو پر حفاظت را چاپېره شوه.

هغه وخت زه په خپل علمي سفر کې وم، اختر مې هم پر بل وطن و، خو ښه مې یاد دي چې عام ولس په کندز کې د مجاهدینو دروند استقبال وکړ، د نړۍ مسلمانانو په رسنیو کې امارت اسلامي ته د کندز د فتحې مبارکۍ رالېږلې، هغوی یې ستایل...هغه خوند، هغې خوشحالۍ او هغې فتحې یقیناً د امارت اسلامي د مجاهدینو روحیه پیاوړې او یو وار بیا یې د اسلامي فتوحاتو یاد تازه کړ.

د شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ

یوه وینا چې په سرو زرو د لیکلو ارزښت لري، چې هغه مرحوم په خپله یوه وینا کې مجاهدینو ته داسې وایي:

«موږ ته دخپلو سرونو تر حفاظت د خپلو اهدافو ساتنه لومړیتوب لري».

د وخت امام شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ د خپل دې قول مطابق خپل هدف ته د رسېدو په خاطر خپل ګران وجود هم په اور کباب کړ. د هغه له فعالیت او ویاړمن موقفه کفري نړۍ ډېره په ډار کې وه، له مختلفو لارو یې د نوموړي د ترور هڅې وکړې، خو کومه پایله یې ور نه کړه، بالآخره د اسلام سرسخته دښمن امریکا د خپلو جاسوسانو په مرسته وتوانېده چې د افغان ولس د خپلواکۍ امام شهید منصور صاحب ـ تقبله الله ـ د بې پیلوټه الوتکې پر مټ په یو بې رحمه برید کې په نښه او شهید کړ. ـ انا لله وانا الیه راجعون! روح دې ښاد او یاد دې تازه وي.

«اللهم اغفرله، وارحمه، وأکرم نزله، وأسکنه فسیح جنانك! یا أرحم الراحمین!»

# د شهید منصور په یاد

رحمت دې په اروا شه و منصوره

تاریخ دې په سرو زرو لیکل کېږي

سیاست کې بې مثاله مدبره

سالار وې د نامي نامي غازیانو

زعیم وې د غیورو افغانانو

لښکر د زمریالو دې رهبري کړ

د ښکلو، نشترې، غازي ځوانانو

په نوم دې مجاهد ولس نازېږي

زرنج نه را نیولې تر پامیره

***

سبق د قربانیو دې را زده کړ

بدن دې په بارودو لولپه کړ

ستا لاره د ایثار مو کړله خپله

شعارد خپلواکۍ موبدرګه کړ

تاریخ د تن په وینوکټل کېږي

کامیابه معرکه وه بې نظیره

***

لښکرد صلیبیانو تارومار شو

غربي ښکېلاک له برمه را ګوزار شو

افغان غازي د فتحې توغ په لاس دی

دښمن مو په تورتم کې را حصار شو

هر وخت به د خوښیو زېرې کېږي

الله مو دې نور وساتي له ویره

***

هیواد کې ورورولي شرعي نظام دی

هرڅوک په خپل انګړ کې په آرام دی

نه ظلم، زور زیاتی شته ساقیاره!

د عدل څادر خور زموږ په قام دی

نفرت ته خلک هیڅ نه وزګارېږي

فضاده د خوښیو دامنګیره

## شعر او ادب

### آزادي

موسی شفیق

زه د ازادۍ د شمعې اور ته پروانه یمه
زده یمه تاریخ ته خوندوره افسانه یمه
تل د سمندر د زمانې کې دردانه یمه
موج مې جذبې وهي یو سیند بې کرانه یمه
تېر یمه له سره په ناموس او ننگ فدا یمه
داغ د ازادۍ نه کوم کرکه ازاد پا یمه
زه هغه غازي یم چې څو ځله شهید شوی یم
بیا یم پیدا شوی که کوم ځلې فقید شوی یم
مور سره تړلي د یوالي په زنځیر یو تول
پوه د خپلې خاورې په تنظیم او په تدبیر یو تول
عشق د خپلواکۍ مې په سینه کې په هاها وي تل
پاک مې احساسات دي ازادي مې تمنا وي تل
خیر د بشر غوارم امنیت مې تقاضا وي تل
ما سره چې نښلي بدبختي دهغه چا وي تل

### غیرت

حفیظ الله باغبان

مازدیگر دی او شفق د غرو په سر لگېږي
د ښایستونو اور دې سم د زړه په ور لگېږي
ما خو مې خپل زړگي ته دوه لاسونه کلک نیولي
خو د عقاب سترگو نظر یې په هنر لگېږي
پښتون بچی د زمانې پداسې دام کې گیر دی
چې د وجود قوت یې ټول په لرو بر لگېږي
ستا د جلال ، غیرت او ننگ کیسې دي تتې پاڼې
بس د الفت په ټکي خوږ زما نظر لگېږي
د دې مظلوم سړي د زړه له آه لرې اوسه
دا تېره غشي سمدلاسه په ټټر لگېږي
باغبانه لاره پو کوه او قدم ورو، ورو اخله
هغه پربوتي چې لاسونه یې په غر لگېږي

# د شیخ امجد الزهاوي نادره!

حامد افغان

شیخ امجد الزهاوي (وفات: ۱۹۶۷م) رحمه الله د عراق مشهور داعي او فقیه عالم و، ده ته الله تعالی عجیبه حافظه ورکړې وه، د بېلگې په توگه ده ته به دا هم یاد و چې فلانۍ مسئله یې څلوېښت کاله پخوا فلاني کتاب او فلاني مخ کې لیدلې وه! دی په «أبوحنیفة الصغیر» سره یادېده، د ده په اړه دومره مبالغه هم کېدله چې که فرضاً حنفي فقه ټوله ختمه شي؛ شیخ الزهاوي به یې له یاده بېرته ولیکي!



د ده په اړه دا ډېره نادره ده چې سره له دومره قوي حافظې سره به له ده نه د خپلو اولادونو، شاگردانو، ملگرو او خپلوانو نومونه هېریدل! چې هر څوک به یې له مجلسه پاڅېد؛ نوم به یې ورنه هېر شو! یوه ورځ یې خپل شاگرد طه العلواني ته څه خبره کوله چې د ده خاص او نږدې ملگري شیخ محمود الصواف ته یې ورسوي؛ نو د هغه خاص ملگري نوم ورنه هېر، وروسته یې ورته وویل: هغه زما نږدې ملگری، هغه توره غټه پګړۍ چې تړي!

یوه ورځ همدې شاگرد طه العلواني پوښتنه ورنه وکړه چې د خلکو نومونه مو ولې هېرېږي؟! ده ورته وویل: کله مې چې قران او حدیثو کې د غیبت باره کې سخت وعیدونه ولیدل او د دې گناه لویالی راته معلوم شو؛ الله ته مې سوال وکړ چې یا الله! هېڅکله د غیبت توفیق مه راکوه، نو دا اوس چې ته رانه ولاړ شې؛ سمدستي دې نوم رانه هېر شي! نو که زه وغواړم هم؛ ستا غیبت نه شم کولی! ځکه ستا یوازې شکل راته یاد وي، نور دې هر څه رانه هېر شي! د دې عالم د تقوی، دیانت او حق وینا باره کې عجیب روایات شته، رحمه الله تعالی. او الله دې موږ ته هم له غیبته نجات راکړي.

# روغ لیونی!

نصیب ځدراڼ

د سهار وخت دی، د کلي وړوکي بازار کې دکاندارانو هټۍ خلاصې دي، څوک د گرد کمولو په موخه د دکانو مخې ته اوبه شیندي، څوک لگیا دي د دکانو سامان ترتیبوي چې د خلکو توجو دکانو ته راجلب کړي، یو لیونی چې په ځمکه ناست دی، ویښتان خیرن او نوکان یې غټ دي، مچان ترې تاوېږي، ماشومان چې مدرسو او مکتب ته روان دي، لیوني باندې غږونه وکړي څوک لیونی لیونی ورته وایې ځینې یې په کانو ولي خو دی پر ځای د دې چې غوسه شي کله ورته وخاندي، کله چکچکې او کله هم شپیلک وهي.

یو دکاندار ورته وایي کور دې وران مه شه لږ یو طرف ته شه گردونه درباندې لوېږي، خو دی یې کیسه کې نه دی، یوه پلاستکي بوجۍ چې خیرنې جامې او خځلې په کې پرتې دي، په هغه کې مصروف دی.

سپین ږیري د دکانو خوا ته پیتاوي ته ناست دي، څوک شین چای څښي، ځینې دکان کې ټلویزیون ته گوري او په خبرونو او روانو حالاتو تبصرې کوي، د ځوانانو یو ټولی له موبایل راتاو دی، کله د خوشحالۍ چیغې کړي، کله خفگان ښکاره کړي، کله وایې شپږیزه شوه، کله وایي وسوځېد. د کرکټ لوبه گوري. د اطرافو خلک خوراکي توکي اخلي او کورو ته یې وړي.

غرمه شوه، یو بای فور موټر راغی، ترانې یې چالانې دي، دکاندار ته وایي یو څو انرژیانې راکړه، یو ځوان چې اوږدې زلفې یې پرېښې، ټوپک ورسره دی له موټره راکوز شو، مشروبات یې ورسره واخیستل او موټر کې کیناست، لیوني اشاره ورته وکړه. پیسې یې ترې غوښتې، د موټر ښیښه یې ورته ښکته کړه لیوني ورمنډه کړه ، پر ځای د دې چې پیسې ترې واخلي، موټر کې ناست ځوان نه یې خولۍ وتښتوله، هغه په خندا شو، بېرته یې ترې یووړه.

لیونی غواړي شوخې وکړي، له جیبه روپۍ، قلم او ږمنځ ترې وباسي، ځوان یو څه روپۍ ورکړې او نورې یې بیرته جیب ته واچولې او غواړي ځان ترې خلاص کړي، موټر روان شو.

خلک یې ننداره کوي، لیونی خوشحاله ښکاري، پیسې دکاندار ته ور وړي، ښیښو کې بندې کولچې ترې غواړي او د اخیستلو نه پس د لارې منځ کې کینې، پلاستیکي بوجۍ ته ډډه وهي او خوراک پیل کړي.

لږ وروسته طیاره راښکاره شوه، دورې یې پیل کړې، د سیمې خلک د دغو طیارو له وجې اعصابي مریضان شوي، کله چې طیارې راشي ماشومان غوږونه په گوتو بند کړي او کوټې ته منډه واخلي، طیاره مسلسل په همدې یو ځای پرواز کوي، اخر یې دوه میزایل د دښتې په طرف ور پرېښودل او یو څه یې په نښه کړل، گذار یې وکړ چې ورپسې لمبې پورته شوې.

بای فور موټر په دښته کې ولاړ دی، لمبې پرې بلې دي، خلک له ډاره ور نږدې کیدای نه شي، موټر کې زخمیان له حرکته لوېدلي، زگیروي کوي، په دې لټه کې دي چې له موټره ځان ښکته کړي، خو نه کیږي، دروازې بندې او اور بل دی، کلیوال بې وسه کله موټر ته گوري کله طیارې ته، هېڅ نه شي کولی.

لیونی د لوی سړک په لور روان دی، گړندي قدمونه اخلي، خو ټک یې له پخوا سره توپیر لري، څېره یې بیغمه نه بلکې ویرېدلې ښکاري، بوجۍ یې غورځولې ده، نور هم گړندی روان شو او لوی سړک ته نږدې شو، له جیبه یې سټېلایټ راویستلو او د چا سره خبرې کوي، وایې «غازي هوټل ته موټر راولېږئ زه هم هغه طرف ته روان یم، هسې نه چې خلک پوی شي چې هدف ما ورکړی او ومې ونیسي.هلئ ژر کوئ».

# د اخلاص سورت فضایل

دریمه برخه / ساجدالله عظمت

۱۷ ــ عَنْ جابر بن عبدالله قَالَ: قَالَ رَسُوْل الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: ثَلاَثَ مَنْ جَآءَ بهِنَّ مَعَ الْاِيْمَان دَخَلَ مَنْ آى أَبْوَاب الَجْنَّة شَآءَ وَزَوَّجَ من الْحُوْر الْعِين حَيْثُ شَآءَ، مَنْ عَفَا عن قَاتله وَأَدّى دَيْناُ خَفياً وَقَرأَ فى دُبُر كُلَّ صَلَوةً مَكْتُوْبَة عَشْرَ مَرَّات (قُلْ هُوَ) قَالَ: فَقَالَ ابوبكر رَضىَ اللهُ عَنْهُ أَوْ اِحْدَاهُنَّ يَا رَسُوْلَ الله قَالَ: أَوْ اِحْدَاهُنَّ.
(تفسیر ابن کثیر: ۴ / ۵۶۹)

ژباړه: له حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روایت دی، وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: درې خبرې داسې دي که چا په ایمانداری سره بشپړې (اداء) کړې؛ نو هغه چې د جنت له هرې دروازې وغواړي، داخلېدای شي او له کومې حورې سره چې وغواړي جوړه کېدای شي. یوه دا چې قاتل یې وباښه، دویم هغه چې پور یې په پټه سره اداء کړ او دریمه دا چې له هر لمانځه وروسته لس ځلې (قُلْ هُوَ) ولولي. دې کې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ووېل: که چا له دغو دریو نه په یوه عمل وکړ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بلې، په یوې خبرې د عمل هم ثواب همدومره دی.

